## د وتلو څخه دمخه چک لست

- ☐ ما خپل ټول **اضافي سامان** بار کړی دی. د سامان مقدار او د مجاز شمیر کلو مقدار په روښانه توګه زما د بوکینګ پاڼه کې په ګوته شوي دي.
- ☐ زه زما د **IOM پلاستیکي کڅوړه** لرم او د لیږ وړ طریقې له مخې به راسره وي که چیري د ترانزیټ او هوایي ډګر رارسیدو مرستې لپاره ورته اړتیا وي.
- ☐ زه زما اصلي او معتبر پاسپورټ یا د سفارت د سفر عاجل اسناد/ Laissez Passez او په بیله زما د اړوند وګرو اسناد لرم.
- ☐ زه زما لاسي سامان یا کڅوړه کې هیڅ **مایعات** (پشمول د مایع خواړو او د سینګار مایع توکي)، کریمونه یا نور اړوند مواد نلرم.
- ☐ ما زما مشاور د سفر پرمهال زما **خانګړي اړتیاو** په اړه خبر کړی دی (خواړه، درمل، ویل چیر، ناروغي وغیره).
- ☐ <u>د امیندواره میرمنو لپاره:</u> زه د ډاکټر سند لرم چې اجازه راکوي د الوتکې څخه د **امیندواره میرمنې** په توګه کار واخلم او د امیندواری اونیو شمیر مشخص کړم.
- ☐ زه زما ټول **درمل او درملنې اړوند** توکي لرم چې زه ورته د سفر په جریان کې اړتیا لرم او د ډاکټر اصلي سند هم زما لاسي سامان کې شتون لري.
- ☐ هغه ټول درمل چې زه ورته د الوتنې په جریان کې اړتیا نلرم زما چک شوي سامان کې ځای په ځای شوي دي.
- ☐ <u>ملګری نه درلودونکي ماشومان:</u> زه زما د **ملګری نه درلودونکي ماشوم** په توګه سفر کولو لپاره ټول اړین اسناد لرم، پشمول د زما والدین او زما د قانوني ساتونکي اجازه نامې.

<u>پوازې هغه مهال د پلې کیدو وړ دي که تاسو د بیرته ستنیدو مرستې غوښتنه وکړئ او مستعد یی اوسئ:</u>

- ☐ ما د وتلو دمخه مشورتي ناستي په جریان کې د بیرته ستنیدو غوښتنلیک فورمه لاسلیک کړی.
- ☐ زه به د بیرته ستنیدو تړون د وتلو پرمهال په هوای ډګر کې لاسلیک کړم.
- ☐ زه به حتی د بیرته ستنیدو وروسته هم اصلي کاپي یا نسخه له ځان سره وساتم.
- ☐ زه پوهیږم چې زما کورني هیواد کې د IOM دفتر د اړیکي توضیحات زما د بیرته ستنیدو تړون کې شتون لري.

**ستاسو د مشاور یا تولنیز همکار لخوا نظریات:**

د مهاجرت نړیوال سازمان

د مهاجرت نړیوال سازمان

# بیرته ستنیدونکو لپاره لارښود

## د بلجیم څخه بیرته ستنیدونکي



PASHTO

Towards a more integrated migration policy, made possible by the AMIF

fedasil
FEDERAL AGENCY FOR THE RECEPTION OF ASYLUM SEEKERS

International Organization for Migration (IOM)
Organisation internationale pour les migrations (OIM)
Internationale Organisatie voor Migratie (IOM)

## ایا تاسو خپل کورني هیواد ته بیرته ستنیږئ؟

**له خڅهپاه غوښتونکو بیرته ستنیدل او مهاجرت**
تاسو د بلجیم څخه د مهاجرت نړیوال سازمان (IOM) د مرستي سره په داوطلبانه ډول د بیرته ستنیدو غوښتنه کړې. موږ ستاسو د بیرته ستنیدو ټولو مرحلو کې تاسو سره د مرستي لپاره هره هڅه کوو.

**مهرباني وکړئ دا پاڼه په خورا توجه سره ولولئ.**

## د سبا جوړولو لپاره نن بیرته ستنیدل

### په هوای ډګر کې (د بروسل ملي هوای ډګر/زوانتین)

- د بنه سفر او ممکن ځند مخنیوي لپاره تاسو باید په کلکه د سامان د کڅوړو شمیر او مجاز کلو شمیر درناوی وکړئ.
- ستاسو د ناستي ځای ردیف ٦، د وتلو څخه <u>**۳ ساعته دمخه**</u> دی.
- په ردیف ٦ کې، تاسو د IOM د هوای ډګر یوه مرسته کوونکي سره ملاقات کوئ. دوی د IOM نیلي جیکټ او خولۍ په اغوستلو سره خورا په اسانۍ پیژندل کیږي.




ردیف ٦




- د IOM د هوای ډګر یو مرسته کوونکی به تاسو سره د ستاسو سامان چک کیدو، امنیت او د پاسپورټ پشمول د سامان بارولو دمخه پروسیژرو کې مرسته وکړي.
- د IOM د هوای ډګر مرسته کوونکی به تاسو سره د وتلو دروازې پورې ملتیا وکړي چیرې چې دوی تاسو ته ستاسو د تیریدو پاڼه.
- د نهای هوای ډګر پورې ستاسو د سفر په اوږدو کې د IOM کارمندانو لخوا په نې د پیژندو لپاره تاسو باید د <u>**IOM کڅوړه**</u> وکاروئ.



### په ترانزیټ کې

- که تاسو مستقیم الوتنه ونه لرئ، نو تاسو سره د IOM کارمندانو لخوا د اروپا لوی هوای ډګرونو کې مرسته کیږي.
- که چیرې د وتلو دمخه یې موافقت وشي، نو IOM د اروپا څخه بهر ستاسو ترانزیټ کې تاسو سره مرسته کوي، که امکان ولري.
- که چیرې تاسو سره ترانزیټ کې د IOM لخوا مرسته وشي، نو لازمي ده چې تاسو د IOM کڅوړه له خانه سره ولرئ. نو پدې توګه به د IOM کارمندان ور وي چې تاسو بنه وپیژني.
- IOM د نښلونکي الوتنې سره ستاسو د خوندي او په وخت سره وتلو څخه ډاډ ورلاندي کوي.
- که تاسو خپل مشاور خبر کړی وي چې تاسو د درملو ځانګړې مرستې ته اړتیا لرئ، نو IOM به د سفر شرکت او هوای ډګر خدماتو سره د درست تعقیب ډاډ ورلاندي کړي.
- که چیرې په ترانزیټ کې (د شپې لخوا پاتې کیدل) اوږد نایټ ته اړتیا وي، نو IOM تاسو ته د هستوګنې ترتیبات نیولی شي.

### د رارسیدو پرمهال

- که چیرې دمخه موافقت وربادې شوی وي، نو IOM به د رارسیدو پرمهال تاسو ته بنه راغلاست وایي او ستاسو کورني هیواد کې ستاسي نهای ځای پورې مو د ترانسپورټیشن څخه ډاډ ورلاندي کوي. د IOM لخوا اسانه شناخت لپاره تاسو باید د IOM کڅوړه له خانه سره ولرئ.
- IOM تاسو سره لازمي پروسیژرو پشمول د ګمرکاتو او مهاجرت کنټرولونو په برخه کې مرسته کوي.
- که تاسو ځانګړې طبي مرستې ته اړتیا لرئ، نو IOM د ځایی (زمیني) خدماتو سره ستاسو درست تعقیب ډاډمن کوي (د مثال په توګه امبولانس او/یا ډاکټر).





## موږ بیرته کورته د خوندي ستنیدو هیله لرو!

**IOM بلجیم او لوګزامبورګ**

Rue Montoyerstraat 40
1000 بروسل

ټلیفون: +32 (0) 2 287 70 00
فکس: +32 (0) 2 287 70 05
بریښنالیک: IOMBrusselsREAB@iom.int
د مهاجرت نړیوال سازمان

